أَلَا بِذِكْرِ اللَّهِ تَطْمَئِنُّ الْقُلُوبُ ۝٢٨ .(الرعد)

## الأدعية المسنونة

# مسنون مستند اذکار

ابو زبیر عبدالرب عواد

پښتو PDF کتابونو لپاره موږ درسره وځارئ!
زموږ ټیلګرام چینل لینک👇
https://t.me/AryanPashtoLibrary
واټساپ نمبر:
00971501455350
زموږ فیسبوک پاڼه👇
آریان پښتو کتابتون



آلَا بِذِكْرِ اللّٰهِ تَطْمَىِٕنُّ الْقُلُوْبُ ۝ (الرعد)

## الأدعية المسنونة

# مسنون مستند اذکار

دا کتاب ( مسنون مستند ازکار ) د آریان پښتو کتابتون لخوا ټولو مسلمانانو ورونو او خویندو ته دي ډالۍ وي ...!

او ما آریان په خپلو نیکو دعاګانو کې یاد ساتئ ...!

**إعداد**

**أبو الزبير عبدالرب عواد**

آریان پښتو کتابتون
2022
+971501455350
ARYAN PASHTO LIBRARY



بسم الله الرحمن الرحيم

د کتاب ځانګړنې :

| | | |
|---|---|---|
| د کتاب نوم | :: | الأدعية المسنونة، مسنون مستند اذکار |
| اعداد | :: | ابو الزبیر عبدالرب عواد |
| کمپوز | :: | مولوي موسی قانت |
| ډیزاین چارې | :: | مجیب الله غریب دوست |
| خپرندوی | :: | باور خپرندویه ټولنه |
| لومړی چاپ کال | :: | 1390 هـ ش |
| دویم چاپ کال | :: | 1401 هـ ش |
| د خپرونو لړ | :: | 102 |
| چاپ شمیر | :: | ۱۱۰۰ ټوکه |

د چاپ حقوق له باور خپروندوی ټولنې سره خوندي دي

باور کتاب پلورنځی، ټانډیټي پوړ، اسحاق زي مارکیټ، پټزی ګلورلارې، جلال اباد

اړیکه: 077-2702004 , 078-7730005 , 079-5353610

بسم الله الرحمن الرحيم

**المقدمة**

إِنَّ الْحَمْدَ لِلَّهِ، نَحْمَدُهُ، وَنَسْتَعِينُهُ، وَنَسْتَغْفِرُهُ، وَنَعُوذُ بِاللَّهِ مِنْ شُرُورِ أَنْفُسِنَا، وَمِنْ سَيِّئَاتِ أَعْمَالِنَا، مَنْ يَهْدِهِ اللَّهُ فَلَا مُضِلَّ لَهُ، وَمَنْ يُضْلِلْ فَلَا هَادِيَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

أَمَّا بَعْدُ: د الله تعالی په احساناتو کې غوره نعمت دین دی، چې یو انسان ته یې ورنصیب کړي، ځکه د دنیا او اخرت د کامیابۍ سبب یواځې او یواځې په دین کې دی.

د انسان روح او زړه تر هغې نه شي خوشالېدی ځو پورې چې د الله تعالی ذاکر بنده جوړ نه شي.

د ذکر ډېر فضیلتونه په قرآن او احادیثو کې راغلي دي چې دلته یې موږ یو څو په لنډ ډول ذکر کوو.



**د ذکر کولو فضایل او فایدې!**

۱: شیطان د ده له امله تښتي او ذلیله کېږي.

۲: الله تعالی پرې راضي کېږي.

۳: د زړه نه غم او خپګان زایله کوي.

۴: زړه ته خوشحالي او اطمینان رسوي.

۵: زړه او بدن مضبوطوي.

٦: مخ او زړه منوروي.

۷: د انسان په مخ یو هیبت او زړه ته حلامة راوړي.

۸: مؤمن د احسان درجې ته رسوي.

۹: زړه کې محبت پیدا کوي.

۱۰: په زړه کې انابت پېدا کوي، یانې الله تعالی ته رجوع کول.

۱۱: الله تعالی ته نزدیکت پرې حاصلېږي.

۱۲: د ذکر له امله رزق پراخه کېږي.

۱۳: د الله تعالی معرفت یانې (پېژندنه) یې په زړه کې زیاتېږي.

۱۴: د زیات ذکر له امله د الله تعالی یادونه ذاکر لره ورنصیب کېږي: (فَاذْكُرُونِي أَذْكُرْكُمْ).

۱۵: زړه ته یو ژوند ورنصیب کوي، لکه علامة ابن القیم رحمه الله وایي: چې ما د شیخ الاسلام ابن تیمیة رحمه الله نه اورېدلي، هغه به ویل:

الذکر للقلب مثل الماء للسمك فکیف یکون حال السمك اذا

فارق الماء.

**ژباړه:** ذكر د زړه لپاره داسې مثال لري، لكه اوبه د ماهي لپاره؛ نو د ماهي حال به څرنګه وي، كله چې له اوبو نه بېل كړای شي.

16: روح او زړه ته طاقت وركوي، علامة ابن القيم رحمه الله وايي: يو ځل ما شيخ الاسلام ابن تيمية رحمه الله وليد، چې د سهار لمانځه نه وروسته يې ذكر شروع كړ؛ نو تر نيمايي ورځ پورې يې ذكر وكړ، بيا يې ماته وويل: دا زما خوراك دی، كه زه دا ونه كړم؛ نو زما جسم كمزوری كېږي.

١٨: زړه ته جلاء وركوي او زنګ ورنه لرې كوي.

١٩: د زړه نه وحشت لرې كوي.

٢٠: ګناهونه ورسره زايلېږي، (ختمېږي).

٢١: د الله تعالى د ذكركوونكي يادونه د الله سره كېږي.

٢٢: څوک چې الله تعالى په راحت كې يادوي، الله عزوجل به يې په سختۍ كې يادوي.

٢٣: الله تعالى به نجات ورنصيب كړي د خپل عذاب نه.

٢٤: د ذكر له امله سكينه او رحمت نازلېږي.

٢٥: د ذكر له امله انسان د غيبت، چغلخورۍ او دروغ ويلو نه ژغورل كېږي.

٢٦: د ذكر مجلسونه دا د ملائكو مجلسونه دي.

٢٧: ذكر كوونكی په ذكر نېكبخته ګرځي.



٢٨: د قيامت په ورځ د افسوس كولو نه انسان په امن كې وي.

٢٩: ځانته ځای كې الله سبحانه وتعالى يادول سره ژړا، د قيامت په سخته ورځ د عرش د سيوري لاندې كېدو سبب ګرځي.

٣٠: د الله تعالى د ذكر په سبب ذكركوونكو ته هغه څه وركړل كېږي، چې عامو سوال كوونكو ته وركړل كېږي.

٣١: په عباداتو كې دا اسان او غوره عبادت دی.

٣٢: د الله تعالى ذكر كول په جنت كې د ځان لپاره نيالګي كرل دي.

٣٣: كوم اجر او ثواب چې الله تعالى په ذكر وركوي هومره په نورو اعمالو نه وركوي.

٣٤: همېشه ذكر كول مسلمان ته امان ور نصيب كوي د الله تعالى د نسيان نه.

٣٥: ذكر يو داسې عبادت دی، چې په هر حالت كې كېدای شي، په ناسته وي كه په ولاړه يا په روانه يا په سفر كې، همداسې په حضر كې هم يانې دا ډېر اسان عبادت دی او غوره عمل دي.

٣٦: ذكر د زړه لپاره رڼا ده او دغه به په قبر كې هم او په اخرت كې به هم وي.

٣٧: ذكر كول دا د ټولو د خير كارونو په سر كې دی، كه دا باب الله تعالى درباندې را خلاص كه؛ نو نور عام اعمال به

ستا لپاره اسان وي.

۳۸: زړه یو قسم ته لوږه لري، که هر څومره انسان ظاهراً مالداره وي، بیا هم هغه به ذلیل وي، د الله تعالی د ذکر نه پرته، یانې د الله تعالی ذکر دا ټول مشکلات ختموي.

۳۹: ذکر درته اخرت نزدې کوي، هغه چې شیطان او امیدونه یې درنه لرې کوي.

۴۰: د الله تعالی ذکر زړه د خوب او غفلت نه راوېښه وي.

۴۱: د الله تعالی ذکر کول، یوه ونه ده، چې ډېره ښاپسته مېوه ورکوي او انسان ډېرو اوچتو هدفونو ته رسوي، چې ډېر خلک هلته نشي راسېدای؛ مګر د الله تعالی په ذکر سره .

۴۲: د الله تعالی په ذکر سره د الله تعالی قرب، محبت او ولایت تر لاسه کېږي.

۴۳: ذکر کول د انفاق في سبیل الله سره برابر دی، دا رنګه دغلامانو د ازادولو سره برابر دی.(راجع الوابل الصیب، ۸۲)

۴۴: ذکر کول د الله تعالی د نعمتونو شکر اداء کول دي، د الله تعالی شکر کول دا دي، چې ستا ژبه همېشه د الله تعالی په یادولو لمده وي.

۴۵: د الله تعالی په بنده ګانو کې الله تعالی ته نږدې بنده ګان متقیان دي او متقیان هغه څوک دي، چې الله تعالی ډېر یادوي او الله تعالی ډېر یادول د الله قرب حاصلوي.

۴۶: زړه کې یو ډول سختوالی موجود وي او هغه د الله تعالی د ذکر نه پرته نه ختمېږي، څومره چې د الله تعالی ذکر زیاتوي؛



نو سختوالی به ختمېږي.

۴۷: زړه یو مرض لري، چې هغه غفلت دی، غفلت نه زائلېږي؛ مګر د الله تعالی په ذکر باندې؛ نو ذکر د زړه لپاره شفاء ده.

۴۸: ذکر د الله تعالی اصل محبت دی او د الله تعالی له ذکر نه غفلت یو مرض دی؛ نو یو مؤمن چې همېشه الله یادوي؛ نو د الله تعالی محبت ورسره پیدا کېږي.

۴۹: ذکر یو داسې عبادت دی، چې د الله تعالی نعمتونه ځانته راجلبوي او الله نه یادول داسې ناروغۍ ده، چې مصیبتونه راوړي.

۵۰: په ذکر کوونکي د الله تعالی رحمتونه راځي او ملاېکې ورته دعاګانې کوي او د تورو تیاورنه یې رڼا ته وباسي.

۵۱: د ذکر مجلسونو ته د جنت باغچې ویل شوي دي، له نبي کریم صلی الله علیه وسلم نه پوښتنه وشوه، چې:

(وما ریاض الجنة) قال: (مجالس الذکر).

۵۲: د ذاکرینو مجلس د ملائکو مجلس دی، ملائکې په دنیا کې مجلس نه لري؛ مګر د ذکر مجلس ته راځي، ملاېکې ګرځي په کوم ځای کې چې د ذکر مجلس پیدا کړي؛ نو هلته حاضرېږي.

۵۳: د ذاکرینو مجلس یو داسې مجلس دی، چې الله تعالی پرې فخر کوي.

۵۴: څوک چې همېشه ذکر کوي دا به جنت ته د خندا په حالت کې داخلېږي.

۵۵: ټول نېک اعمال چې موږ او تاسې کوو، د دې ټولو موخه د الله تعالى يادونه ده او په ذکر کې هم د الله تعالى يادول دي، ياني دا يو اصل عبادت دی.

۵۶: په ټولو نېکو اعمالو کې هغه عمل غوره دی، چې څوک زيات کوي، لکه هغه روژه دار غوره دی، چې ډېر ذکر کوي، هغه حاجې غوره دی، چې ډېر ذکر کوي همداسې هغه مجاهد غوره دی، چې ډېر ذکر کوي، ياني د ذکر په ډېربښت سره فوقيت تر لاسه کېږي.

۵۷: د الله تعالى همېشه ذکر د نورو نفلي عباداتو په نيابت کې واقع کېږي، لکه نفلي حج او ... که عبادت بدني وي او که مالي.

۵۸: د ذکر له امله زړه ته يوه خوشحالي رسېږي او دا يوه ستره مرسته ده د نورو اعمالو لپاره، ياني عام نېک اعمال به الله تعالى ورته اسان کړي او له عباداتو څخه به خوند اخلي.

۵۹: د ذکر له امله سختي اسانېږي، ستونزې حل کېږي او غمونه ورسره ختمېږي.

۶۰: د الله تعالى ذکر د زړه نه وېره لرې کوي او ذکر ډېر عجيب اثر لري په زړه باندې زړه ته امن راوړل د الله د ذکر نه پرته ممکن نه دی.



۶۱: ذکر کوونکي ته الله تعالى په زړه کې يو طاقت... اچوي هغه دومره زيات اعمال کوي، چې عام خلک يې هومره نشي کولای، علامه ابن القيم رحمه الله وايي: ما د شيخ الاسلام ابن تيمية رحمه الله طاقت لېدلی و، په خبرو کې، په ليکلو کې، په تللو کې او په عامو کارونو کې، الله تعالى يو عجيب طاقت ورکړی و.

۶۲: د ټولو نېکو اعمالو والا د يو بل نه مخکې کېدونکي دي، خو ذاکرين د ټولو نه وړاندې روان وي.

۶۳: د الله تعالى ذکر کول دا سبب دی، د الله د تصديق لپاره.

۶۴: د يو ذاکر د ذکر له امله په جنت کې ابادۍ جوړېږي، کله چې ذکر کوونکی ذکر ودروي؛ نو ملائکې خپل ابادۍ ودروي او چې ذکر پيل کړي؛ نو ابادي پيل کړي.

۶۵: کله چې ذاکر نور داسې اعمال ولري، چې جنهم ته پرې خي؛ نو د الله تعالى ذکر د يو دېوال په څېر ورنه تاوو شي او د جهنم نه يې وژغوري.

۶۶: د ذاکر لپاره ملائکې استغفار وايي او وايي: يا الله! دې بنده ته بښنه وکړه.

۶۷: غرونه او دشتې فخر کوي او خوشحالېږي، څوک چې پر دوی باندې ذکر کوي.

۶۸: ډېر ذکر کوونکی انسان الله تعالى د منافقت نه ژغوري او د منافقانو صفت دا دی:(وَلَا يَذْكُرُونَ اللَّهَ إِلَّا قَلِيلًا).(النساء، ۱۴۲)

٦٩: ذکر په نور اعمالو باندې یو جدا خوند لري، که چېرته یو بنده لپاره ثواب نه وي او همدا خوند وي؛ نو دا خوند ورله کافي دی.

٧٠: څوک چې ډېر الله تعالی یادوي او په هر حالت کې یادوي، په سفر کې، په حضر کې، په ناسته، په ولاړه، په دشته، په دریاب کې؛ نو د قیامت په ورځ به دا ټول مخلوقات په ده ګواهي ورکوي.

٧١: د الله تعالی ذکر مخ ته ښکلا وربښي، ذاکرین به په دنیا کې ښاېسته مخونو والا وي او په اخرت کې به یې په مخ کې نور وي.

٧٢: ذکر یو داسې عمل دی، چې په کولو یې انسان د غیبت نه، د عبثو خبرو نه او د خلکو د صفتونو نه په امن کې کېږي.

٧٣: د ذکر له امله هغه وحشت له زړه نه زایلېږي، چې شیطان یې د یوه مسلمان په زړه کې اچوي.

راجع لتفصيل هذه الفوائد الوابل الصيب من الكلم الطيب. للعلامة ابن القيم رحمه الله.

### ۱: په سېکنډونو کې په لکونو نېکیانې!

کله چې غواړې ځان ته په اخلاص او په حضورالقلب سره دعا وکړې؛ نو په دعا کې ټول مسلمانان نارینه او ښځینه یاد کړه؛ نو الله تعالی به تاته د هر نارینه او زنانه په سر یوه یوه نېکي درکړي.(اخرجه الطبراني عن عبادة، کما في مجمع الزوائد، ١٠، ٢١٠)



**فایده:** که ته دعا کې ټول مړي او ژوندي نارینه او ښځینه یاد کړې؛ نو د هر کس په سر به الله تعالی تاته یوه، یوه نېکي درکړي؛ نو ته ځان سره سوچ وکړه، په دنیا کې په میلیونو مسلمانان تېر شوي دي او څه موجود دي؛ نو ته به په لږ وخت کې په لکونو نېکۍ تر لاسه کړې؛ خو الله تعالی دې موږ کې اخلاص او رغبت الی الله پیداکړي.

### ۲) څو سېکنډه او میلون نېکي!

کله چې څوک بازار ته داخلېږي او دغه دعا یو ځل ولولي:

لَا إِلٰهَ إِلاَّ اللّٰهُ وَحْدَهُ لا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ، وَلَهُ الْحَمْدُ، يُحْيِي وَيُمِيتُ، وَهُوَ حَيٌّ لا يَمُوتُ، بِيَدِهِ الْخَيْرُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ.

(ترمذي، رقم: ٣٦٦٨- الحاكم: ٥٣٨/١- صحيح الكلم الطيب: ٢٢٩)

**فایده:**

څوک چې بازار ته داخلېږي او دغه دعا یو ځل ولولي، بازار هغه ځای ته ویل کېږي، چې په کوم ځای کې د انسانانو حاجت پوره کېږي؛ نو ددې دعا په یو ځل ویلو سره به الله تعالی ورته لس لکه نېکۍ لیکي او لس لکه ګناهونه به الله تعالی ورته معاف کړي او لس لکه درجې به الله تعالی ورته اوچتې کړي او په جنت کې به الله تعالی ورته یو کور هم جوړ کړي ددې حدیث له امله امام قتیبه رحمه الله به هره ورځ بازار ته تللو او بېرته به راته.(کما في ابن ماجه، رقم٢٢٣٥)

### ۳) یو لمونځ د یو لکو لمونځونو برابر!

په حرم شریف کې یو لمونځ کول د یو لکو لمونځو برابر دی، د نورو جوماتونو په نسبت.

**فایده:** د یادولو وړ بولم، چې له دې نه موخه فرضي لمونځ دی، نه نفلي.(مصنف عبدالرزاق)

### ۴) یو لمونځ او دوه ځله د احد د غره په مقدار ثواب!

حدیث کې راځي، څوک چې په یو مسلمان باندې د جنازې لمونځ وکړي او دغه جنازه کول ثواب وګڼي او تر دې په هدیره کې پاتې شي، چې خلک د مړي له دفن نه فارغ شي؛ نو الله تعالی به دې مسلمان ته دوه قیراطه اجر ورکړي او یو قیراط د احد د غره برابر دی.(صحیح البخاري عن ابي هریرة رضي الله عنه)

### ۵) څو دقیقې او په زرونو نېکیانې!

په حدیث کې راځي، څوک چې یو حرف د الله تعالی د کتاب ولولي؛ نو په یو حرف الله تعالی ده ته لس نېکۍ ورکوي، اوس (الم) درې حرفه دی؛ نو په دې الله تعالی (۳۰) نېکۍ ورکوي؛ نو اوس سوچ وکړئ، که یو څوک د قرآن کریم یو لوی سورة تلاوت کړي؛ نو ده ته به الله تعالی څومره ډېرې نېکیانې ورکړي، همداسې که یو څوک ټول سورة ال عمران تلاوت کړي؛ نو په دې سورة کې (۱۴۵۲۰) حروف دي؛ نو دې ته به ضرب ورکړې په لسو کې؛ نو ده نه به (۱۴۵۲۰۰) جوړ شي، ډېر نېکبخته خلک هغه دي، چې روزانه څو څو سپارې تلاوت



کوي، همدارنګه که یو ځل (قُلۡ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ) ولولي، په دې کې (۴۷) حروف دي، چې له دې نه به (۴۷۰) نېکۍ جوړېږي او که سل ځله یې ولولي؛ نو بیا ترې (۴۷۰۰۰) نېکۍ جوړېږي.(الفوائد، ص ۹۲.)

### ۱) هر ورځ (۱۰۰) ځلې!

هره ورځ (سُبۡحَانَ اللَّه) ویلو سره (۱۰۰۰) ګناهونه بښل کېږي او (۱۰۰۰) نېکۍ لیکل کېږي.

(مسلم ۲۰۷۳/۴، عن سعد، حصن المسلم، ص ۱۴۲)

### ۲) هره ورځ (۱۰۰) ځلې!

څوک چې هره ورځ (۱۰۰) ځلې (سُبحانَ اللّٰهِ وبِحَمۡدِهِ) ووایي؛ نو الله تعالی به ورته ټول ګناهونه معاف کړي، اګر که د دریاب د زګ په کچه هم وي.

(بخاري، ۷/ ۱٦۷، مسلم، ۴/ ۲۰۷۱، حصن المسلم، ص ۱۴۱)

### ۳) هره ورځ (۱۰۰) ځلې!

نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي: زه هره ورځ (۱۰۰) ځلې (أَسۡتَغۡفِرُ اللَّه) وایم او حال دا چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د صغائرو او کبائرو نه پاک و؛ نو موږ او تاسې باید هره ورځ په سوونو ځله (أَسۡتَغۡفِرُ اللَّه) ووایو.

(مسلم، ۲۰۷۴/۴، حصن المسلم، ص ۱۳۹)

**۴) هره ورځ (۱۰۰) ځلې!**

**څوک چې د ورځې (۱۰۰) ځلې: (لَا إِلٰهَ إِلاَّ اللّٰهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ. لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ) ولولي؛ نو ده ته به الله تعالی د لسو غلامانو د ازادولو ثواب ورکړي او (۱۰۰) نېکۍ به ورته وليکي او (۱۰۰) ګناهونه به ورته معاف کړي او په دغه ورځ به الله تعالی ده ته د شيطان نه حفاظت ورنصيب کړي او دا انسان په دغه ورځ غوره انسان دی؛ مګر هغه انسان چې له ده نه يې زيات عمل کړی وي.**(بخاري، ۹۵/۴، مسلم، ۴/ ۲۰۷۱)

**۵) هره ورځ (۱۰۰) ځلې!**

**څوک چې هر ورځ (۱۰۰) ځلې: (لَا حَوْلَ وَلاَ قُوَّةَ إِلَّا بِاللّٰه) ووايي؛ نو دا انسان به الله تعالی هېڅکله غريب نه کړي او فقر به ورته ونه رسېږي.**(الترغيب والترهيب، ۴۴۱/۲، الوابل الصيب من الكلم الطيب، ص ۹۲)

**فايده:** پورته دعا چې په کوم حديث کې نقل ده، ددې روايت په سند کې اسد بن وداعه راوي دی او پر ده دا نيوکه ده، چې دا ناصبي دی، خو امام نسائي ثقه ګرځولی، د يادولو وړ بولم، چې د دې ذکر يادونه په نورو احاديثو کې هم شوې او شيخ الاسلام ابن تيميه وايي: ددې ذکر زيات کول ډېر عجيب اثر لري او د انسان په وجود کې يو عجيب طاقت پيدا کوي.(الوابل الصيب)

**پورته ذکر هر وخت زيات کول پکار دي، په ځانګړي توګه کله چې انسان ډېر خپه وي.**



**٦) هره ورځ (۱۰۰) ځلې!**

**په يو حديث کې راځي، چې که څوک د ورځې (۱۰۰) ځلې: (لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰه) ووايي؛ نو د قيامت په ورځ به ددې انسان مخ د سپوږمۍ په څېر پړک وهي او په دغه ورځ به دده نه بل غوره عمل نه وي، چې اسمان ته پورته شي؛ مګر هغه څوک چې ددې نه يې زيات عمل کړی وي.**(رواه الطبراني، الترغيب و الترهيب، ۴۴۲/۲)

**فايده:** د پورته ذکر عمومي فضايل په احاديثو کې شته دي؛ خو په دې حديث کې د (۱۰۰) ځلې قيد دی؛ نو دا روايت هم د سند په لحاظ سره ضعيف دی، ځکه په دې کې عبدالوهاب بن الضحاک راوي دی او پر هغه کلام شته؛ خو داسې روايتونه په فضايلو کې د عمل وړ دي، لکه دا خبره د اصول الحديث نه معلومېږي او حافظ ابن حجر په تلخيص الخبير کې پېنځه شرطونه ياد کړي دي، پر ضعيف حديث د عمل کولو لپاره.

**۷) هره ورځ (۱۰۰) ځلې!**

**په حديث کې راځي، څوک چې هره ورځ (۱۰۰) ځلې (لَا إِلٰهَ إِلَّا اللّٰهُ الْمَلِكُ الحَقّ الْمُبِين) ووايي: نو الله تعالی به يې د فقر نه او د قبر له وحشت نه وژغوري.**

(مسند الفردوس، ۸/۴، كنز العمال، رقم: ۳۸۹٦، الدين الخالص، ۲۵۷/۳)

**۸) هره ورځ (۱۰۰) ځلې!**

**څوک چې هره ورځ (۱۰۰) ځلې په نبي کريم صلی الله عليه وسلم درود ووايي؛ نو الله تعالی به يې د منافقت او له اور خخه وساتي او د قيامت په ورځ به د شهيدانو سره يو ځای اوسېږي.**

(رواه الطبراني في الأوسط. البركات المكية ص ۱۴، شيخ محمد موسی البازي)

**۱) د ويده کېدو اذکار!**

**۱:** «اللَّهُمَّ بِاسْمِكَ أَمُوتُ وَأَحْيَا» .(بخاري، ۹۳۴، مسلم، ۳۴۸، مشکاة، ۲۰۸)

**ژباړه: ای الله! زه ستا په نامه مړ کېږم او ژوندی کېږم.**

**۲: سُبْحَانَ الله، پاکي ده الله لره، ۳۳ ځله.**

**اَلْحَمْدُلله، ثنا ده الله لره، ۳۳ ځله.**

**الله اَكْبَرُ، الله ډېر لوی دی، ۳۳خله.**(بخاري، ۹۲۵، مسلم، ۳۵۱)

**فايده: دې اذکارو ته اذکار فاطميه ويل کېږي.**

**۳: يو ځل اية الکرسي د خوب په وخت کې لوستل هم مسنون عمل دی او همدارنګه د هر فرض لمانځه نه وروسته يو ځل اية الکرسي لوستل سنت دي او فايده يکې دا ده، کوم انسان چې دا عمل کوي؛ نو الله تعالی يې ارومرو جنت ته داخلوي.**

**۴: د خوب په حالت کې:** (قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَد)(قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ)(قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ) **لوستل.**(بخاري: ۹۳۵/۲، مشکوة: ۱۸۶/۱)



**فايده: څرنګه چې دا درې سورتونه د خوب په وخت کې لوستل مسنون عمل دی؛ نو همدارنګه د فرض لمانځه نه وروسته لوستل يې هم مسنون عمل دی، البته نه د سنت لمانځه نه وروسته.**

**۲) له خوب نه د پاسېدو دعا!**

«الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَحْيَانَا بَعْدَمَا أَمَاتَنَا. وَإِلَيْهِ النُّشُورُ».

**ژباړه: شکر دی هغه الله لره، چې را ژوندي يې کړو موږ وروسته له مرګ (يانې خوب) زموږ نه او د هغه لوري ته زموږ ور پورته کېدل دي.** (بخاري، ۹۳۴/۲، مسلم، ۳۴۸/۲، مشکوة، ۲۰۸/۱)

**۳) په خوب کې د وېرېدلو دعا!**

أَعُوذُ بِكَلِمَاتِ اللهِ التَّامَّاتِ مِنْ غَضَبِهِ وَعِقَابِهِ وَشَرِّ عِبَادِهِ. وَمِنْ هَمَزَاتِ الشَّيَاطِينِ وَأَنْ يَحْضُرُونِ.(أبو داود، ۳۸۹۳، الترمذي،۳۵۱۹)

**فايده: يانې کله چې په خوب کې ووېرېږي او بيا را پورته شي؛ نو دا الفاظ دې ووايي.**

**۴) د جامو اغوستلو دعا!**

اللَّهُمَّ إِنِّي أَسأَلُكَ مِنْ خَيْرِهِ وَخَيْرِ مَا هُوَلَهُ. وأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّهِ وَشَرِّ ما هُوَ لَه.(الترمذي، رقم (۱۷٦۷)، مسند أحمد:۳۰/۲)

**ژباړه: ای الله! زه تا نه د دې جامې خير غواړم او هغه خير چې دا جامه ورله جوړه ده او پناه غواړم په تا د شر د دې نه او د هغه شر نه چې دا جامه ورله جوړه ده.**

**۵) بل ته د جامو د مباركي وركولو دعا!**

اِلْبَسْ جَدِيدًا. وَعِشْ حَمِيدًا. وَمُتْ شَهِيدًا.

(ابن ماجه، رقم:۳۵۵۸، مسند أحمد: ۸۹/۲)

**ژباړه: واغونده نوې جامې او ژوند تېر كړه ستايلى شوى او مړ شه شهيد.**

**٦) د جامو ويستلو دعا!**

بِسْمِ اللَّهِ الَّذِي لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ.

**ژباړه: په نامه د هغه الله چې له هغه نه پرته د بنده ګۍ حقدار نشته.** (ابن السني: رقم، ۲۷۳، ارواء الغليل، ۵۰)

**۷) بيت الخلاء ته د داخلېدو دعا!**

اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الْخُبُثِ وَالْخَبَائِثِ. (صحيح البخاري، ۲۶۶/۱)

**ژباړه: زه پناه غواړم په تا د پليتۍ د شيطانانو نه.**

**۸) بيت الخلاء نه د وتلو دعا!**

غُفْرَانَكَ.

**ژباړه: اى الله! زه ستا نه د بښنې سوال كوم.** (مسند أحمد، ۱۵۵/٦)

**۹) د اودس په پيل كې دعا!**

بِسْمِ اللَّهِ.

**ژباړه: شروع كوم په نامه د الله تعالى.** (النسائي: ٦١/١)



**۱۰) كور ته د داخلېدو دعا!**

اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ خَيْرَ الْمَوْلَجِ. وَخَيْرَ الْمَخْرَجِ. بِسْمِ اللَّهِ وَلَجْنَا. وَبِسْمِ اللَّهِ خَرَجْنَا. وَعَلَى اللَّهِ رَبِّنَا تَوَكَّلْنَا.

**ژباړه: اى الله! زه ستا نه بهترين ځاى د داخلېدو غواړم او بهترين ځاى د وتلو، موږ د الله په نامه سره داخل شو او د الله تعالى په نامه سره خارج شو او موږ په الله باندې توكل وكړو، چې زموږ رب دى.** (مشكوة: ۲۱۵/۱، ابو داود، رقم: ۵۰۹٦)

**۱۱) كور نه د وتلو دعا!**

بِسْمِ اللَّهِ. تَوَكَّلْتُ عَلَى اللَّهِ. لاَ حَوْلَ وَلاَ قُوَّةَ إِلاَّ بِاللَّهِ.

**ژباړه: په نامه د الله تعالى شروع كوم او توكل مې كړى، په الله تعالى باندې، نشته د ګناه نه اوړېدل او نه د نېكۍ توفيق وركول؛ مګر په الله تعالى.** (ابو داود، رقم: ۵۰۹۵، الترمذي، رقم: ۳۴۲۲)

**۱۲) مسجد ته د داخلېدو دعا!**

اللهُمَّ افْتَحْ لِي أَبْوَابَ رَحْمَتِكَ.

**ژباړه: يا الله! ما باندې د خپل رحمت دروازې را خلاصې كړې.**

(صحيح مسلم،۷۱۲، ابن السني، رقم: ۷۸)

**۱۳) مسجد نه وتلو دعا!**

اللهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ.

**ژباړه: اى الله! تا نه ستا د مهربانۍ سوال كوم.**

(صحيح مسلم،۷۱۳، ابن السني، رقم: ۱۵٦)

**۱۴) د اذان نه وروسته دعا!**

اللَّهُمَّ رَبَّ هَذِهِ الدَّعْوَةِ التَّامَّةِ. وَالصَّلَاةِ الْقَائِمَةِ. آتِ مُحَمَّدًا الْوَسِيلَةَ وَالْفَضِيلَةَ. وَابْعَثْهُ مَقَامًا مَحْمُودًا الَّذِي وَعَدْتَهُ.

(البخاري، ۸۶/۱، ابو داود، ۱۰۶/۱)

**۱۵) د رکوع نه پس دعا!**

رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ حَمْداً كَثِيراً طَيِّباً مُبَارَكاً فِيهِ.

**ژباړه:** ای الله! تا لره د کمال صفتونه دي، صفتونه ډېر او پاک چې برکت پکې اچول شوی وي. (البخاري: ۱۱۰/۱، مشکوة: ۸۲/۱)

**فایده:** دغه دعا په نفل لمونځونو کې او فرضو ټولو کې ویلی شي.

**۱۶) د دوه سجدو په منځ کې دعا!**

اللهُمَّ اغْفِرْ لِي، وَارْحَمْنِي، وَاهْدِنِي، وَعَافِنِي وَارْزُقْنِي.

د دې دعا په فرض لمانځه کې لوستل هم په احادیثو کې شته؛ بلکې امام احمد رحمه الله وایي: چې په فرض لمانځه کې د دې دعا لوستل واجب دي.(مشکوة: ۸۴/۱)

**۱۷) د فرض لمانځه نه وروسته محمدي اذکار!**

۱: درې ځله: أَسْتَغْفِرُ اللهَ.(مسلم: ۲۱۸/۱، مشکوة: ۸۱/۱)

۲: اللَّهُمَّ أَنْتَ السَّلَامُ. وَمِنْكَ السَّلَامُ. تَبَارَكْتَ يَا ذَا الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ.(مسلم: ۲۱۸/۱، مشکوة: ۸۱/۱)

۳: یو ځل اية الکرسي لوستل د فرض لمانځه نه وروسته.

۴: ۱) ۳۳ ځلې (سُبْحَانَ اللهِ) ویل.



۲) ۳۳ ځلې (اَلْحَمْدُ لله) ویل.

۳) ۳۳ ځلې (اَللهُ أَكْبَرُ) ویل.(بخاري، ۹۳۵)

**فایده:** دغه اذکار د بخاري په روایت کې لس، لس ځله ویل هم شته، همدارنګه یوولس، یوولس ځله ویل یې هم شته دي، حدیث کې راغلي، چې د فرض لمانځه نه وروسته لس، لس ځلې ویلو سره یو نیم زر نیکۍ الله تعالی ورکوي.

(د پورته تحقیق لپاره الحق الصریح وګورئ،۲۳۴/۴، مشکوة ۲۱۱/۱)

۵: سورة الاخلاص، سورة الفلق او سورة الناس هر یو، یو ـ یو ځل لوستل.(ترمذي رقم، ۳۰۷۹)

**فایده:** دا ټول اذکار د فرض لمانځه نه وروسته ویل کېږي دا اذکار د سنت لمانځه نه وروسته کول بدعت دي؛ ځکه مبنی د عباداتو په توقف ده، د نبي کریم صلی الله علیه وسلم نه په همدې محل کې نقل ده.

**۱۸) دعاء قنوت!**

«اللَّهُمَّ اهْدِنِي فِيمَنْ هَدَيْتَ. وَعَافِنِي فِيمَنْ عَافَيْتَ. وَتَوَلَّنِي فِيمَنْ تَوَلَّيْتَ. وَبَارِكْ لِي فِيمَا أَعْطَيْتَ. وَقِنِي شَرَّ مَا قَضَيْتَ. إِنَّكَ تَقْضِي وَلَا يُقْضَى عَلَيْكَ. وَإِنَّهُ لَا يَذِلُّ مَنْ وَالَيْتَ. وَلَا يَعِزُّ مَنْ عَادَيْتَ. تَبَارَكْتَ رَبَّنَا وَتَعَالَيْتَ». (مشکوة: ۱۱۲/۱، الترمذي: ۱۰۶/۱، ابو داود: ۱۴۲/۱)

**فایده:** دغه دعا نبي کریم صلی الله علیه وسلم خپل لمسي حسن رضي الله عنه ته په وترو کې ښودلې وه او د دې دعا په وترو کې ویل مسنون عمل دی.

**۱۹) د وترو د لمانځه نه وروسته دعا!**

«سُبْحَانَ الْمَلِكِ الْقُدُّوسِ». (ابو داود، رقم: ۱۱۳، النسائي، رقم: ۱۶۵۲)

**ژباړه:** پاکي ده الله لره، چې ډېر زيات پاک بادشاه دی.

**۲۰) د خوراک په پېل کې دعا!**

بِسْمِ اللهِ.

**ژباړه:** پيل کوم د الله تعالی په نامه. (بخاري: ۲۰۹/۲، مسلم: ۱۷۲/۲)

**فايده:** مکمله بسم الله ويل د ډوډۍ په پېل کې نقل نه ده، له دې امله په يوه حديث کې راغلي:

«يَا غُلَامُ. سَمِّ اللهَ. وَكُلْ بِيَمِينِكَ. وَكُلْ مِمَّا يَلِيكَ»

(صحيح البخاري، مسند امام أحمد، ۶۳/۲)

**۲۱) تر خوراک نه وروسته دعا!**

الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَطْعَمَنِي هَذَا الطَّعَامَ. وَرَزَقَنِيهِ مِنْ غَيْرِ حَوْلٍ مِنِّي وَلَا قُوَّةٍ. (ابو داود، رقم: ۴۰۲۳)

**ژباړه:** صفتونه د کمال الله لره دي، چې موږ ته يې دا طعام راکړ او روزي يې کړه زما په خير زما له طاقت نه پرته.

**فايده:** دا دعا که څوک تر ډوډۍ وروسته ولولي؛ نو ټول ګناهونه به الله تعالی ورته معاف کړي.

**۲۲) د غم او خپګان په وخت کې دعا!**

يَا حَيُّ يَا قَيُّومُ بِرَحْمَتِكَ أَسْتَغِيثُ. (الترمذي، رقم: ۳۴۳۲)



**۲۳) د تکليف پر مهال دعا!**

حَسْبُنَا اللهُ وَنِعْمَ الْوَكِيلُ عَلَى اللهِ تَوَكَّلْنَا. (مشکوة: ۳۸۲/۲)

**۲۴) د ماشومانو د دمولو دعا!**

أُعِيذُكُمَا بِكَلِمَاتِ اللهِ التَّامَّةِ. مِنْ كُلِّ شَيْطَانٍ وَهَامَّةٍ. وَمِنْ كُلِّ عَيْنٍ لَامَّةٍ.

**فايده:** رسول الله صلی الله عليه وسلم به حسن او حسين رضي الله عنهما په دې دعا سره دمول. (بخاري: ۴۷۷/۱، مشکوة: ۱۳۴/۱)

**۲۵) د دانې د دمولو دعا!**

«بِسْمِ اللهِ، تُرْبَةُ أَرْضِنَا. بِرِيقَةِ بَعْضِنَا. يُشْفَى سَقِيمُنَا. بِإِذْنِ رَبِّنَا». (مسلم: ۲۲۳/۲، مسند أحمد: ۹۳/۶)

**فايده:** دغه الفاظ سهار او مازيګر اوه ځله ورباندې ولولئ او ګوته په ځمکه راکاږئ، چې لږه خاوره ورپورې شي او بيا هماغه ګوته د مريض په زخم راکاږئ، ان شاء الله تعالی الله به شفاء ورکړي.

**۲۶) ليوني دمول!**

درې ورځې مسلسل دمول سهار او مازيګر سورة فاتحه وربانديې اوه ـ اوه ځله لوستل، ان شاء الله تعالی جوړ به شي.

(ابو داود، ۲۱۰/۵، ابن حبان ۶۳۶/۷)

**۲۷) د مړي په قبر کې د سپارلو دعا!**

«بِسْمِ اللَّهِ، وَعَلَى سُنَّةِ رَسُولِ اللَّهِ»

**يا داسې ووايه:** «بِسْمِ اللَّهِ، وَعَلَى مِلَّةِ رَسُولِ اللَّهِ».

(ابو داود: ۳۲۱۳/۲، ابن ماجه، رقم: ۱۵۵۰)

**۲۸) قبرستان ته د ورتللو دعا!**

السَّلَامُ عَلَيْكُمْ دَارَ قَوْمٍ مُؤْمِنِينَ، وَإِنَّا إِنْ شَاءَ اللهُ بِكُمْ لَاحِقُونَ. (ابو داود و أحمد: ۳۰۰/۲)

**ژباړه:** په تاسې دې سلام وي، ای د دې خای ایماندارو او بېشکه ان شاء الله موږ تاسې سره نزدې یو خای کېدونکي یو.

**۲۹) د کافرانو په قبرونو د ورتللو دعا!**

اَبْشِرُوا يَا كُفَّارُ بِالنَّارِ. (ابن السني، رقم: ۵۹۴)

**ژباړه:** خوشاله شئ، ای کافرانو په اور د جهنم باندې.

**۳۰) د قرض نه د خلاصون دعا!**

اللَّهُمَّ اكْفِنِي بِحَلَالِكَ عَنْ حَرَامِكَ، وَأَغْنِنِي بِفَضْلِكَ عَمَّنْ سِوَاكَ.

**ژباړه:** ای الله! کافي شه زما په حلالو د حرامو ستا نه او بې پرواه کړې ما پخپله مهرباني سره د هغه چا نه چې ستا نه غیر دی. (الترمذي، رقم: ۳۸۱۶)



**۳۱) داسې یو څوک وګورې، چې ګوډ وي یا شل وي او یا عام مصیبت کې وي؛ نو دا دعا په دې وخت کې ووایه:**

الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي عَافَانِي مِمَّا ابْتَلَاكَ بِهِ، وَفَضَّلَنِي عَلَى كَثِيرٍ مِمَّنْ خَلَقَ تَفْضِيلًا. (مشکوة: ۲۱۶/۱، الترمذي، رقم: ۳۶۷۲)

**۳۲) د باران د غوښتلو دعا!**

«اللَّهُمَّ اسْقِ عِبَادَكَ، وَبَهَائِمَكَ، وَانْشُرْ رَحْمَتَكَ، وَأَحْيِ بَلَدَكَ الْمَيِّتَ». (ابو داود، رقم: ۱۱۷۶)

**۳۳) د تېزې هوا چلېدو پر مهال دعا!**

«اللَّهُمَّ لَقِحًا لَا عَقِيمًا».

**ژباړه:** ای الله! دا له خیر نه ډکه وګرځوې. (ابن حبان: ۲۸۸/۳)

**۳۴) د باران د ودرېدو دعا!**

«اللَّهُمَّ حَوَالَيْنَا وَلَا عَلَيْنَا، اللَّهُمَّ عَلَى الْآكَامِ وَالظِّرَابِ، وَبُطُونِ الْأَوْدِيَةِ، وَمَنَابِتِ الشَّجَرِ». (بخاري: ۱۳۸/۱، مسلم: ۲۹۴/۱)

**۳۵) د اسمان د غراري په وخت کې دعا!**

اللَّهُمَّ لَا تَقْتُلْنَا بِغَضَبِكَ، وَلَا تُهْلِكْنَا بِعَذَابِكَ، وَعَافِنَا قَبْلَ ذَلِكَ.

(الترمذي: ۱۸۳/۲)

**۳۶) د پرنجي پر مهال دعا!**

الْحَمْدُ لِلَّهِ.

**ژباړه:** صفتونه د كمال خاص الله لره دي.

**فايده:** پرنجى كوونكى به (الْحَمْدُ لِلَّهِ) وايي او اورېدونكى به (يَرْحَمُكَ اللَّهُ) وايي، بيا به پرنجى كوونكى وايي: (يَهْدِيكُمُ اللَّهُ وَيُصْلِحُ بَالَكُمْ).(بخاري، ۹۱۹/۲، مشكوة، ۴۰۵/۲)

**۳۷) د كوزدن والا ته دعا!**

«بَارَكَ اللَّهُ لَكَ، وَبَارَكَ عَلَيْكَ، وَجَمَعَ بَيْنَكُمَا فِي خَيْرٍ».
(ابو داود، رقم: ۲۱۳۰، الترمذي، ۱۰۹۱)

**۳۸) د كور والي دعا!**

اللَّهُمَّ جَنِّبْنَا الشَّيْطَانَ وَجَنِّبِ الشَّيْطَانَ مَا رَزَقْتَنَا.(البخاري: ۴۶۳/۱)

**۳۹) د چرګ د اواز پر مهال دعا!**

اللهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ.(البخاري: ۴۶۶/۱)

**۴۰) د خر د غږ پر مهال دعا!**

أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ.(البخاري: ۴۶۱/۱)

**۴۱) د غوسې پر مهال دعا!**

أَعُوذُ بِاللَّهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ.(البخاري: ۴۶۴/۱، ابو داود، ۴۷۸۰)

**۴۲) كله چې يو مسلمان په خندا وګورې، دا دعا ورته وكړه!**

أَضْحَكَ اللَّهُ سِنَّكَ.

**ژباړه:** الله دې ستا غاښ وخندوي.(البخاري: ۴۶۵/۱)



**۴۳) كله چې له تا سره څوک احسان وكړي، دا دعا ورته وكړه!**

جَزَاكِ اللَّهُ خَيْرًا.

**ژباړه:** الله دې غوره بدله دركړي.(الترمذي، رقم: ۲۰۳۶)

**۴۴) كه ستا د ږېرې نه څوک ډكى لرې كړي، داسې دعا ورته وكړي!**

أَخَذَتْ يَدَاكَ خَيْرًا.

**ژباړه:** ستا لاس دې خير واخلي.(ابن السني، رقم: ۲۸۳)

**۴۵) حمام ته د داخلېدو دعا!**

اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الْجَنَّةَ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنَ النَّارِ.
(صحيح الكلم الطيب: ۲۵۲)

**۴۶) كله چې تا ته څوک ووايي، چې زما درسره مينه ده، ته خواب كې دا ووايه!**

أَحَبَّكَ الَّذِي أَحْبَبْتَنِي لَهُ.

**ژباړه:** مينه دې وكړي الله له تا سره، هغه ذات چې د هغه لپاره ته ما سره مينه كوې.(ابو داود: ۸۸/۴)

**۴۷) كله چې د خوشالۍ خبر واورې، دا دعا ووايه!**

سُبْحَانَ اللَّهِ.(الترمذي، رقم: ۲۲۸۵)

**يا دا ووايه:**

اللَّهُ أَكْبَرُ.(مسند امام أحمد: ۲۱۸/۵)

## ۴۸) د لیلة القدر د لیدو پر مهال دعا!

اللَّهُمَّ إِنَّكَ عَفُوٌّ تُحِبُّ الْعَفْوَ فَاعْفُ عَنِّي.(ابن ماجه، رقم: ۳۸۵۰)

## ۴۹) د حجر اسود د ښکلولو پر مهال دعا!

بِسْمِ اللَّهِ. وَاللَّهُ أَكْبَرُ.(فتح الباري: ۳/ ۴۷٦، البيهقي: ۸۹/۵، بسند صحيح)

## ۵۰) په شیشه کې دلیدلو دعا!

اَللَّهُمَّ أَنْتَ أَحْسَنْتَ خَلْقِي. فَأَحْسِنْ خُلُقِي.

**ژباړه:** ای الله! تا زما شکل ښایسته کړی، پس زما اخلاق هم ښایسته کړې.(ارواء الغليل: ۱/۱۱۳، ابن السني، رقم: ۱٦۳)

## ۵۱) د شیطان نه د بچ کېدو اذکار!

۱: سورة بقرة لوستل.

حدیث کې راځي: چې له خپلو کورونو مقبرې مه جوړوئ، شیطان تښتي له هغه کورونو نه چې سورة البقرة پکې لوستل کېږي، د دې حدیث د مفهوم نه دا معلومېږي، چې په هدیره کې تلاوت ښه نه دی.

۲: عام ذکرونه ډېر زیات کول.

۳: وروستي سورتونه زیات لوستل.

د ډېر تفصیل لپاره: د اذکارو نور کتابونه وګورئ.



## د رزق د فراخۍ اسباب!

۱: پر نبي کریم صلی الله علیه وسلم درود ویل.

۲: صله رحمي یانې خپلوي پالل.

۳: د لمونځونو پابندي کول.

۴: سورة واقعة لوستل.

۵: د استغفرالله کلمه زیاته ویل.

٦: په اخلاص سره دعا کول.

۷: واده کول.

۸: د ویده کېدو په وخت کې اذکار فاطمیه لوستل.

۹: یو ښه سبب یې تقوا ده.

وَمَنْ يَتَّقِ اللَّهَ يَجْعَلْ لَهُ مَخْرَجًا (۲) وَيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ.

۱۰: د اخرت فکر زیات کول.

۱۱: «لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ» کلمه زیاته ویل.

۱۲: حلال تجارت کول.

۱۳: له اصراف نه ځان ساتل.

۱۴: نوافل لمونځونه زیات کول.

۱۵: سهار وختي خپل کار پسې تلل.

۱٦: د دین داره خلکو سره مرسته کول.

۱۷: د یو چا په مشکل کې له هغه سره همکاري کول.

۱۸: د سبا او ماښام اذکار ویل.

۱۹: د مور او پلار احترام کول.

۲۰: پر الله تعالی توکل کول او په تقدیر رضا.

## د درود فضایل او فواید!

اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ النَّبِيِّ الأُمِّيِّ، وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ. (ابو داود، ۹۸۱)

**فایده:** د درود الفاظ نور هم ډېر زیات دي او درود زیات فضایل لري، غوره درود همدغه دی، چې په لمانځه کې لوستل کېږي، درود هر وخت زیات لوستل پکار دي، په ځانګړي توګه د جمعې په ورځ.

د لا تفصیل لپاره جلاء الافهام د ابن القیم رحمه الله وکورئ او فضایل الذکر د شیخ زکریا وګورئ، اګر چې د شیخ زکریا کتاب ضعیف روایات هم لري.

## د صلاة تسبیح لمونځ!

(سُبْحَانَ اللهِ وَالْحَمْدُ لِلَّهِ وَلاَ إِلَهَ إِلاَّ اللهُ وَاللهُ أَكْبَرُ.)

دا په صحیحو احادیثو کې ثابت دي، سره له دې، چې شیخ عثیمین او ځینې نورو علماوو رد هم پرې کړی دی؛ خو د ناقدینو دلیل کمزوری دی، شیخ عبدالحي لکهنوي په دې اړه یو کتاب لیکلی (الاسرار المرفوعه) او دا لمونځ ډېر زیات اجر او ثواب لري، ټول ګناهونه ورسره ختمېږي، نبي کریم صلی الله علیه وسلم خپل تره عباس رضي الله عنه ته ددې لمونځ ترغیب ورکړی، ددې لمونځ طریقه دا ده.

دا څلور رکعته نفل لمونځ دی، د سورة نه وروسته (۱۵) څله په رکوع کې(۱۰) څله د رکوع نه وروسته (۱۰) څله په سجده کې



(۱۰)د دوو سجدو تر منځ (۱۰)څله په دوېمه سجده کې (۱۰) د دوېمې سجدې نه وروسته یانې په ځای د جلسه استراحت کې (۱۰) چې دا مجموعه په یو رکعت کې (۷۵) څله جوړوي؛ نو په څلورو رکعاتو کې (۳۰۰) څله جوړېږي.

## د استخارې دعا!

اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْتَخِيرُكَ بِعِلْمِكَ وَأَسْتَقْدِرُكَ بِقُدْرَتِكَ، وَأَسْأَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ فَإِنَّكَ تَقْدِرُ وَلاَ أَقْدِرُ، وَتَعْلَمُ وَلاَ أَعْلَمُ، وَأَنْتَ عَلاَّمُ الْغُيُوبِ، اللَّهُمَّ فَإِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ هَذَا الأَمْرَ ثُمَّ تُسَمِّيهِ بِعَيْنِهِ خَيْرًا لِي فِي عَاجِلِ أَمْرِي وَآجِلِهِ قَالَ: أَوْ فِي دِينِي وَمَعَاشِي وَعَاقِبَةِ أَمْرِي فَاقْدُرْهُ لِي وَيَسِّرْهُ لِي، ثُمَّ بَارِكْ لِي فِيهِ، اللَّهُمَّ وَإِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنَّهُ شَرٌّ لِي فِي دِينِي وَمَعَاشِي وَعَاقِبَةِ أَمْرِي أَوْ قَالَ: فِي عَاجِلِ أَمْرِي وَآجِلِهِ فَاصْرِفْنِي عَنْهُ، وَاقْدُرْ لِي الْخَيْرَ حَيْثُ كَانَ ثُمَّ رَضِّنِي بِهِ.

**ژباړه:** ای الله! زه ستا نه ستا خیر غواړم، ستا په علم باندې او قدرت غواړم، تا نه ستا په قدرت او غواړم ستا لویه مهرباني؛ ځکه ته قوت والا یې او زه طاقت والا نه یم او ته پوهېږې او زه نه پوهېږم او ته پوهه یې په پټو شیانو، ای الله! که چېرته تا ته معلومه وي، چې دا کار زما لپاره غوره دی په دین او دنیا کې او د انجام په لحاظ او اوس او په وروسته زمانه کې، پس ویې ټاکه زما لپاره او بیا برکت واچوې ما ته په دې کې او که چېرته تا ته معلومه وي، چې دا کار شر دی زما لپاره په دین او

دنیا کې او په انجام د کار کې، که اوس وي او که په وروسته زمانه کې؛ نو دا کار واړه وې زما نه او ما واړوې د هغې نه او مقرر کړه ما لره خیر چېرته چې وي، بیا مې پرې خوشاله کړه. (البخاري: ۱۵۶/۱، المشکوة، ۱۱۶/۱)

**د نوي نعمت په لاس راتلو دعا!**

«الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِي بِنِعْمَتِهِ تَتِمُّ الصَّالِحَاتُ».

**ژباړه:** صفتونه د کمال هغه الله لره دي، چې د هغه په نعمت سره ښه حالتونه بشپړیږي.

(ابن ماجه: ۳۸۰۳، الحاکم: ۴۹۹/۱، ابن السني، رقم: ۳۷۸)

**د اهل کتابو د ناروغ پوښتنې پر مهال دعا!**

د ترغیب لپاره یا فلانکیه داسې ووایې:

أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللّٰهِ.

**که هغه ایمان راوړي؛ نو بیا تاسې دا دعا ولولئ!**

«الْحَمْدُ لِلّٰهِ الَّذِي أَنْقَذَهُ مِنَ النَّارِ».

**ژباړه:** ای فلانکیه! دا ووایه، چې زه ګواهي ورکوم چې له الله تعالی نه پرته هیڅوک د بندګۍ لایق نشته او بېشکه محمد د الله تعالی رسول دی.

د کمال ټول صفتونه خاص الله لره دي، هغه ذات چې دا انسان یې له اور نه خلاص کړ.

(رواه البخاري، في الجنائز و ابو داود في الجنائز، مشکوة: ۱۳۷/۱)



**مریض دې ځان لپاره دا دعا ولولي!**

«اللَّهُمَّ رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً. وَفِي الْآخِرَةِ حَسَنَةً. وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ».

**ژباړه:** ای الله! موږ ته په دنیا کې ښایسته حالت (ژوند) راکړې او په اخرت کې ښایسته حالت راکړې او موږ د اور له عذاب خخه وساتې. (مسلم: ۳۴۲/۲، الترمذي کتاب الدعوات)

**کله چې ناروغ د خپل ژوند نه ناهیلې شي!**

«اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي وَارْحَمْنِي، وَأَلْحِقْنِي بِالرَّفِيقِ».

**ژباړه:** ای الله! ما ته ښښنه وکړه او پر ما رحم وکړه او ما د اوچتو (درجاتو والا) ملګرو سره یو ځای کړه.

**کله چې انسان د خپل ژوند نه په تنګ شي!**

حدیث کې دي، چې مؤمن ته تکلیف ورسېږي؛ نو د ځان لپاره دې هېڅکله د مرګ دعا نه کوي، که ارومرو یې کوي؛ نو بیا دې داسې دعا وغواړي:

اللَّهُمَّ أَحْيِنِي مَا كَانَتِ الْحَيَاةُ خَيْرًا لِي، وَتَوَفَّنِي إِذَا كَانَتِ الْوَفَاةُ خَيْرًا لِي. (البخاري: ۸۴۷/۲، ابو داود، رقم: ۳۱۰۸، الترمذي، رقم: ۹۷۱)

**ژباړه:** ای الله! ته ما ژوندی وساتې که ژوند زما لپاره غوره وي او وفات کړې ما کله چې وفات زما لپاره غوره وي.

**مدینه منوره کې د مرګ نصیب کېدو دعا!**

«اللَّهُمَّ ارْزُقْنِي شَهَادَةً فِي سَبِيلِكَ. وَاجْعَلْ مَوْتِي فِي بَلَدِ رَسُولِكَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ».

**ژباړه:** ای الله! ما ته ستا په لار کې شهادت نصیب کړې او زما مرګ ستا د رسول په کلي کې مقرر کړې. (البخاري: ۲۵۳/۱)

**فایده:** دا د عمر رضي الله عنه دعا ده او مدینه کې د مړ کېدو په فضیلت کې ډېر صحیح احادیث راغلي دي.

**د مړي د سترګو پټولو پر مهال دعا!**

«اَللَّهُمَّ اغْفِرْ لِفُلَانَ وَارْفَعْ دَرَجَتَهُ فِي الْمَهْدِيِّينَ. وَاخْلُفْهُ فِي عَقِبِهِ فِي الْغَابِرِينَ. وَاغْفِرْ لَنَا وَلَهُ يَا رَبَّ الْعَالَمِينَ. وَافْسَحْ لَهُ فِي قَبْرِهِ. وَنَوِّرْ لَهُ فِيهِ».

**ژباړه:** ای الله! فلانکي ته بښنه وکړه او په هدایت موندونکو کې یې مرتبه اوچته کړه او پاتې شه په وروسته پاتې کېدونکو د اولادونو د هغه کې او بښنه وکړه موږ ته او هغه ته، ای د مخلوقاتو مالکه! او فراخي راوله په قبر د هغه او رڼا ورله پکې واچوه. (مسلم: ۳۱۱/۱، مشکوة: ۱۴۱/۱)

**فایده:** اغفر لفلان کې د (دفلان) په ځای د مړي نوم اخیستل پکار دي.



**د وربخ د مخامخ لیدو دعا!**

«اللَّهُمَّ إِنَّا نَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا أُرْسِلَ بِهِ».

**ژباړه:** ای الله! موږ پناه غواړو تا سره د ضرر د هغه شي نه چې دا وربخ ورله لېږل شوې ده.

(ابن ماجه کتاب الدعاء، ص ۱۲۸۰، رقم: ۳۸۸۹، مطبعة دار احیاء الکتب العربیة)

**د سورلی دعا!**

**لومړی:**

بِسْمِ اللهِ. بیا اَلْحَمْدُ لِلَّهِ. بیا سُبْحَانَ الَّذِي سَخَّرَ لَنَا هَذَا. وَمَا كُنَّا لَهُ مُقْرِنِينَ. وَإِنَّا إِلَى رَبِّنَا لَمُنْقَلِبُونَ.

**بیا اَلْحَمْدُ لِلَّهِ درې ځله او بیا اللهُ أَكْبَر درې ځله.**

«سُبْحَانَكَ إِنِّي ظَلَمْتُ نَفْسِي فَاغْفِرْ لِي. فَإِنَّهُ لَا يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلَّا أَنْتَ». (الترمذي: ۳۶۹۱، ابو دواد: ۲۳۴۲)

**د ښکته کوځېدو او پورته ښتلو دعا!**

**صحابه کرام فرمايي: موږ به چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره ښکته کوځېدلو: نو سبحان الله به مو وایه او چې اوچت ځای ته به ښتلو؛ نو الله اکبر به مو وایه.**

(بخاري ۴۲۰/۱، ابن السني، ۵۱۶)

**سفر نه د واپس کېدو دعا!**

**رسول الله صلی الله علیه وسلم به چې کله مدینې منورې ته رانژدې شو؛ نو په اوچت ځای باندې به ودرېده او درې ځله به یې الله اکبر ولوسته او دا دعا به یې وفرمایله:**

«لاَ إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ. لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ. وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ. آيِبُونَ تَائِبُونَ عَابِدُونَ سَاجِدُونَ لِرَبِّنَا حَامِدُونَ. صَدَقَ اللّٰهُ وَعْدَهُ. وَنَصَرَ عَبْدَهُ. وَهَزَمَ الأَحْزَابَ وَحْدَهُ». (البخاري، ١٧٩٧، مسلم، ١٣٤٤)

**ژباړه:** واپس کېدونکي یو موږ، توبه ویستوونکي یو موږ، عبادت کوونکي یو موږ،سجده کوونکي یو خپل رب ته، حمدونه ویونکي یو د هغه، رښتینې کړه الله خپله وعده او د خپل بنده مرسته یې وکړه او شکست یې ورکړو ډلو ته یوازې.

## د سفر نه د بېرته راتلو او کور ته د ننوتلو دعا!

«تَوْبًا تَوْبًا. لِرَبِّنَا أَوْبًا. لَا يُغَادِرُ عَلَيْنَا حَوْبًا».

**ژباړه:** موږ توبه وباسو خپل رب ته او راګرځو هغه لوري ته چې موږ ګناه ته پرې نږدي.

(مسند امام أحمد: ٢٥٦/١، ابن السني، رقم: ٥٣١)

## کله چې یوه کلي ته ور داخلېږئ!

«اللَّهُمَّ رَبَّ السَّمَاوَاتِ السَّبْعِ وَمَا أَظْلَلْنَ. وَرَبَّ الأَرَضِينَ السَّبْعِ وَمَا أَقْلَلْنَ. وَرَبَّ الشَّيَاطِينِ وَمَا أَضْلَلْنَ. وَرَبَّ الرِّيَاحِ وَمَا ذَرَيْنَ. فَإِنَّا نَسْأَلُكَ خَيْرَ هَذِهِ الْقَرْيَةِ وَخَيْرَ أَهْلِهَا. وَنَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّهَا وَشَرِّ أَهْلِهَا. وَشَرِّ مَا فِيهَا».

**ژباړه:** ای الله! چې رب د اووه اسمانونو او رب د هغه څه چې دا پرې سیورى کوي او رب د اوو ځمکو او د هغه څه چې



اوچتوي یې دا ځمکې او رب د شیطانانو او د هغه څه چې دوی یې ګمراه بې لارې کوي او رب د هواګانو او د هغه څه چې دوی یې الوزوي، زه غواړم ستا نه خیر ددې کلي او خیر د اهل ددې او هغه خیر چې په دې کې دی او پناه غواړم پتا د شر ددې (کلي) نه او د شر د اهل د دې نه او د هغه شر نه چې په دې کې دی. (النسائي في عمل اليوم والليلة، رقم: ٥٤٣، ابن حبان: ٢٣٧٧، الحاكم: ١٠٠/١، ابن السني، رقم: ٥٢٤، وسنده حسن)

## کله چې انسان یو ځای کې دمه وکړي!

أَعُوذُ بِكَلِمَاتِ اللّٰهِ التَّامَّاتِ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ.

**ژباړه:** پناه غواړم په خبرو د الله چې پوره دی د شر د مخلوق د هغه نه. (مسلم: ٢٤٧/٢، ترمذي: ٣٤٣٣، أحمد: ٣٧٧/٦)

## د ناخاپي مصیبت راتلو پر مهال څه کول پکار دي!

لکه اور ولږیږي، زلزله راشي؛ نو که داسې حالت را پېښ شي؛ نو په دې وخت کې لاندیني اعمال کول پکار دي.

١: لمونځ کول.

٢: صدقه ورکول؛ ځکه صدقه مصیبت دفعه کوي.

٣: الله اکبر کلمه ډېر ویل.

٤: د الله عام ذکر کول.

٥: غلام ازادول.

٦: له الله نه دعاګانې غوښتل.

٧: په مصیبت کې صبر کول، جز پز نه کول، چغې نه وهل.

**۸: استغفار ویل.**

**۹: لاحول ولا قوة لوستل، په دې سره مصیبت دفع کېږي.**(بخاري، ۱/ ۱۴۵)

**د منکر کار د ورانولو پر مهال دعا!**

جَاءَ الْحَقُّ وَزَهَقَ الْبَاطِلُ إِنَّ الْبَاطِلَ كَانَ زَهُوقًا.(الإسراء، ۸۱)

**ژباړه: حق راغی او باطل له منځه لاړ، باطل له منځه تلونکی دی.**

**یا:**

قُلْ جَاءَ الْحَقُّ وَمَا يُبْدِئُ الْبَاطِلُ وَمَا يُعِيدُ.(سبأ، ۴۹)

**ژباړه: حق راغلی دی، باطل نه کوم شی نوی پیدا کولی شي نه یې بیا له سره ژوندی را پاځولی شي.**

(اخرجه البخاري، ۳۳٦/۱، مسلم، ۲/ ۱۰۴)

**د غوره شي لیدلو پر مهال دعا!**

«الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي بِنِعْمَتِهِ تَتِمُّ الصَّالِحَاتُ».

**ژباړه: ټول صفتونه د کمال خاص الله لره دي، چې د هغه په نعمت سره ټول ښه حالتونه پوره کېږي.**

**د بد شي لیدلو پر مهال دعا!**

«الْحَمْدُ لِلَّهِ عَلَى كُلِّ حَالٍ».

**ژباړه: په هر حال کې الله تعالی د صفتونو مستحق دی.**

(رواه ابن ماجه في الآدب، المستدرک، ۱۷۴/۲، ۱۷۳، رقم ۱۸۸۳، وهو حدیث صحیح کما قال الالباني في الصحیحة رقم، ۲٦۵، ص ۴۳۰)



**له ریا نه د وېرېدو پر مهال دعا!**

اللَّهُمَّ إِنَّا نَعُوذُ بِكَ أَنْ نُشْرِكَ بِكَ شَيْئًا تَعْلَمُهُ وَنَسْتَغْفِرُكَ لِمَا لَا نَعْلَمُهُ.(صحیح الترغیب: ۱۹/۱، بسند حسن)

**ژباړه: ای الله! موږ پناه غواړو په تا د دې نه، چې شرک وکړو تا سره د هغه شي، چې موږ ته معلوم وي او بښنه غواړو تا نه د هغه شي نه چې موږ ته معلوم نه وي.**

**کله چې له یوه قوم نه وېرېږئ!**

اللهُمَّ اكْفِنِيهِمْ بِمَا شِئْتَ.(صحیح مسلم، ۴۱۵/۲)

**ژباړه: ای الله! ته زما لپاره کافي شه له دوی نه په هغه څه چې ستا خوښه شي.**

**ملاقات نه وروسته د جدایي پر مهال دعا!**

«اللَّهُمَّ رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً. وَفِي الآخِرَةِ حَسَنَةً. وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ».(حسن: ابن السني في عمل الیوم واللیلة، ۲۰۴)

**فایده: رسول الله صلی الله علیه وسلم به چې کله د یوه سړي لاس ونیوه او بیا به جلا کېده؛ نو دا دعا به یې ولوسته.**

**کله چې پر مسلمان یو کار ګران شي!**

اللَّهُمَّ لَا سَهْلَ إِلَّا مَا جَعَلْتَهُ سَهْلًا وَأَنْتَ تَجْعَلُ الْحَزَنَ سَهْلًا إِذَا شِئْتَ.(ابن حبان: ۱٦۱/۲)

**ژباړه: ای الله! نشته اساني؛ مګر هغه شی چې ته یې اسان کړې او ته ګران شیان اسانوې، کله چې ستا اراده وشي.**

**د نېکيو د ډېرښت دعا!**

اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ فِعْلَ الخَيْرَاتِ، وَتَرْكَ المُنْكَرَاتِ، وَحُبَّ المَسَاكِينِ، وَأَنْ تَغْفِرَ لِي وَتَرْحَمَنِي، وَإِذَا أَرَدْتَ فِتْنَةً فِي قَوْمٍ فَتَوَفَّنِي غَيْرَ مَفْتُونٍ، وَأَسْأَلُكَ حُبَّكَ وَحُبَّ مَنْ يُحِبُّكَ، وَحُبَّ عَمَلٍ يُقَرِّبُ إِلَى حُبِّكَ.

**ژباړه:** ای الله! زه تاته د نېکو کارونو کول او د بدو کارونو پرېښودل او له مسکينانو سره محبت غواړم او ستا مغفرت او رحمت غواړم او کله چې ته اراده وکړې د څه امتحان په بنده ګانو؛ نو ما ترېنه وړاندې وفات کړې او تا نه ستا مينه غواړم او د هغه چا مينه چې تا سره مينه کوي او محبت د هغه عمل چې ستا محبت ته مې نزدې کړي.(الترمذي، ٣٢٣٥)

**فايده:** دا ډېره قيمتي او ايماني دعا ده، نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي، دا دعا ياده کړئ او دا د فرض لمانځه نه وروسته هم لوستلی شئ، لکه چې وړاندې تېره شوه.

**د جنت خزانې ګټل!**

«لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ».

**ژباړه:** له ګناه نه اړول نشته او پر نېکۍ توان نشته؛ مګر په الله دی.(بخاري، مسلم، مشکوة: ٢٠١/١)

**فايده:** حديث کې راغلي، چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم ابو موسی اشعري رضي الله عنه ته وفرمايل: ايا تاته زه د جنت خزانه ونه ښايم؛ نو دا کلمه يې ور وښودله.



**کله چې څوک ستا صفت وکړي!**

اللَّهُمَّ لَا تُؤَاخِذْنِي بِمَا يَقُولُونَ، وَاغْفِرْ لِي مَا لَا يَعْلَمُونَ وَاجْعَلْنِي خَيْرًا مِمَّا يَظُنُّونَ.

**ژباړه:** ای الله! ما د دوی په خبره مه را نيسه او ما ته هغه ګناهونه وبښه ، کوم چې دوی ته نه دي معلوم او ما غوره وګرځوه د هغې نه چې د دوی ګمان دی په ما باندې.

(الادب المفرد للبخاري، رقم: ٧٦١، قال الشيخ صحيح الاسناد، البيهقي في شعب الايمان، ٢٢٨/٤)

**د ميزان د ډکولو دعا!**

سُبْحَانَ اللَّهِ وَبِحَمْدِهِ، سُبْحَانَ اللَّهِ العَظِيمِ.

(بخاري، ٦٦٨٢، مسلم، مشکوة، ٢٠٠/١، ابن حبان، ٩٩/٢)

**فايده:** حديث کې راغلي، چې دا دوه کلمې الله تعالی ته خوښې دي او ميزان کې به درنې وي او په ژبه اسانې دي؛ نو دا په هر وخت کې ډېر ډېر لوستل پکار دي.

**د بې لاربتوب نه د بچ کېدو دعا!**

اللَّهُمَّ لَكَ أَسْلَمْتُ، وَبِكَ آمَنْتُ، وَعَلَيْكَ تَوَكَّلْتُ، وَإِلَيْكَ أَنَبْتُ، وَبِكَ خَاصَمْتُ، وَإِلَيْكَ حَاكَمْتُ، أَعُوذُ بِكَ لَا إِلَهَ أَنْتَ أَنْ تُضِلَّنِي أَنْتَ الحَيُّ الَّذِي لَا يَمُوتُ وَالجِنُّ وَالإِنْسُ يَمُوتُونَ.

**ژباړه:** ای الله! زه تابعدار يم او پر تا مې ايمان راوړی او پر تا مې توکل کړی او تا ته انابت کوم (عاجزي او رجوع) او ستا په نامه زه له خلکو سره جګړه کوم، له بېلارېتوب نه پناه

غواړم په تا سره، ستا نه پرته د بنده ګۍ حقدار نشته، ته هغه ژوندی ذات یې چې پر تا مرګ نه راځي او پیریان او انسانان خو مري. (ابن حبان: ۱۲۸/۲، مشکوة: ۲۱۷/۱)

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ. أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ. أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ

راځئ ملګرو زموږ په دې شاته پاڼه ټولنه کې ، کتاب لوستل عام کړو تر څو مو آینده نسل آزاد ، ارام او سوکاله ژوند ولري .!

په درنښت | آریان پښتو کتابتون



## لیکلړ

موضوع ........ مخ

المقدمة........................................3
د ذکر کولو فضایل او فایدي!.............................4
۱: په سبکنډونو کې په لکونو نېکیانې!......................11
۲) څو سبکنده او میلون نېکې!..........................12
۳) یو لمونځ د یو لکو لمونځونو برابر!.....................13
۴) یو لمونځ او دوه څله د احد د غره په مقدار ثواب!.........13
۵) څو دقیقې او په زرونو نېکیانې!........................13
۱) هر ورځ (۱۰۰) ځلې!..................................14
۲) هره ورځ (۱۰۰) ځلې!.................................14
۳) هره ورځ (۱۰۰) ځلې!.................................14
۴) هره ورځ (۱۰۰) ځلې!.................................15
۵) هره ورځ (۱۰۰) ځلې!.................................15
٦) هره ورځ (۱۰۰) ځلې!.................................16
۷) هره ورځ (۱۰۰) ځلې!.................................16
۸) هره ورځ (۱۰۰) ځلې!.................................17
۱) د ویده کېدو اذکار!....................................17
۲) له خوب نه د پاسېدو دعا!..............................18
۳) په خوب کې د وېرېدلو دعا!.............................18
۴) د جامو اغوستلو دعا!...................................18
۵) بل ته د جامو د مبارکي ورکولو دعا!.....................19
٦) د جامو ویستلو دعا!....................................19
۷) بیت الخلاء ته د داخلېدو دعا!...........................19
۸) بیت الخلاء نه د وتلو دعا!...............................19

آریان پښتو کتابتون
+971501455350
ARYAN PASHTO LIBRARY

آریان پښتو کتابتون
2022
+971501455350
ARYAN PASHTO LIBRARY


۹) د اودس په پیل کې دعا!....................19
۱۰) کور ته د داخلېدو دعا!....................20
۱۱) کور نه د وتلو دعا!....................20
۱۲) مسجد ته د داخلېدو دعا!....................20
۱۳) مسجد نه وتلو دعا!....................20
۱۴) د اذان نه وروسته دعا!....................21
۱۵) د رکوع نه پس دعا!....................21
۱٦) د دوه سجدو په منځ کې دعا!....................21
۱۷) د فرض لمانځه نه وروسته محمدي اذکار!....................21
۱۸) دعاء قنوت!....................22
۱۹) د وترو د لمانځه نه وروسته دعا!....................23
۲۰) د خوراک په پیل کې دعا!....................23
۲۱) تر خوراک نه وروسته دعا!....................23
۲۲) د غم او خپګان په وخت کې دعا!....................23
۲۳) د تکلیف پر مهال دعا!....................24
۲۴) د ماشومانو د دمولو دعا!....................24
۲۵) د داني د دمولو دعا!....................24
۲٦) لیوني دمول!....................24
۲۷) د مړي په قبر کې د سپارلو دعا!....................25
۲۸) قبرستان ته د ورتللو دعا!....................25
۲۹) د کافرانو په قبرونو د ورتللو دعا!....................25
۳۰) د قرض نه د خلاصون دعا!....................25
۳۱) داسې یو څوک وګوري، چې ګوډ وي یا شل وي او یا عام...:....26
۳۲) د باران د غوښتلو دعا!....................26
۳۳) د تېزې هوا چلېدو پر مهال دعا!....................26
۳۴) د باران د ودرېدو دعا!....................26


او ما آریان په خپلو نیکو دعاګانو کې یاد ساتئ...!

دا کتاب ( مسنون مستند اذکار ) د آریان پښتو کتابتون لخوا ټولو مسلمانانو وروڼو او خویندو ته ډالۍ وي ...!




۳۵) د اسمان د غړارې په وخت کې دعا!....................26
۳٦) د پرنجې پر مهال دعا!....................27
۳۷) د کوژدن والا ته دعا!....................27
۳۸) د کور والي دعا!....................27
۳۹) د چرګ د اواز پر مهال دعا!....................27
۴۰) د خر د غږ پر مهال دعا!....................27
۴۱) د غوسې پر مهال دعا!....................27
۴۲) کله چې یو مسلمان په خندا وګوري، دا دعا ورته وکړه!..........27
۴۳) کله چې له تا سره څوک احسان وکړي، دا دعا ورته وکړه!........28
۴۴) که ستا د ړېړې نه څوک ډکی لرې کړي، داسې دعا ورته وکړي!28
۴۵) حمام ته د داخلېدو دعا!....................28
۴٦) کله چې تا ته څوک ووايي، چې زما درسره مینه ده، ته څواب..:.28
۴۷) کله چې د خوشالۍ خبر واورې، دا دعا ووایه!....................28
۴۸) د لیلة القدر د لیدو پر مهال دعا!....................29
۴۹) د حجر اسود د ښکلولو پر مهال دعا!....................29
۵۰) په شیشه کې دلیدلو دعا!....................29
۵۱) د شیطان نه د بچ کېدو اذکار!....................29
د رزق د فراخۍ اسباب!....................30
د درود فضایل او فواید!....................31
د صلاة تسبیح لمونځ!....................31
د استخارې دعا!....................32
د نوي نعمت په لاس راتلو دعا!....................33
د اهل کتابو د ناروغ پوښتنې پر مهال دعا!....................33
که هغه ایمان راوري؛ نو بیا تاسې دا دعا ولولئ!....................33
مریض دې خان لپاره دا دعا ولولي!....................34
کله چې ناروغ د خپل ژوند نه ناهیلې شي!....................34

کله چې انسان د خپل ژوند نه په تنګ شي!..........................34
مدینه منوره کې د مرګ نصیب کېدو دعا!..........................35
د مرې د سترګو پټولو پر مهال دعا!..........................35
د وریځ د مخامخ لیدو دعا!..........................36
د سورلۍ دعا!..........................36
د ښکته کوځېدو او پورته ښتلو دعا!..........................36
سفر نه د واپس کېدو دعا!..........................36
د سفر نه د بېرته راتلو او کور ته د ننوتلو دعا!..........................37
کله چې یوه کلي ته ور داخلېږې!..........................37
کله چې انسان یو ځای کې دمه وکړي!..........................38
د ناڅاپي مصیبت راتلو پر مهال څه کول پکار دي!..........................38
د منکر کار د ورانولو پر مهال دعا!..........................39
د غوره شي لیدلو پر مهال دعا!..........................39
د بد شي لیدلو پر مهال دعا!..........................39
له ریا نه د وېرېدو پر مهال دعا!..........................40
کله چې له یوه قوم نه وېرېږې!..........................40
ملاقات نه وروسته د جدایې پر مهال دعا!..........................40
کله چې پر مسلمان یو کار ګران شي!..........................40
د نېکیو د ډېرښت دعا!..........................41
د جنت خزانې ګڼل!..........................41
کله چې څوک ستا صفت وکړي!..........................42
د میزان د دکولو دعا!..........................42
د بې لارېتوب نه د بچ کېدو دعا!..........................42
لیکلړ..........................44

آریان پښتو کتابتون
ARYAN PASHTO LIBRARY
2022
+971501455350

دا کتاب ( مسنون مستند ازکار ) د آریان پښتو کتابتون لخوا ټولو مسلمانانو ورونو او خویندو ته ډالۍ وي ...!

او ما آریان په خپلو نیکو دعاګانو کې یاد ساتئ ...!